کاظم بیمار ننګرهاری
د کابل پوهنتون استاد

۲۰۱۱/۰۹/۱۷

# د افغانستان د خپلواکۍ ۹۲ کلیزه!

د ګران هیواد د خپلواکۍ او آزادۍ ۹۲ کلیزه دسپتمبر د میاشتي په نهمه ۲۰۱۱ کال د جمعي په ورځ د ماښام په شپږ. نیمو بجو د شمالي کالیفورنیا د نیوارک په ښار د چاندني په رستورانت کي چه تقریبا څلور نیم سوه افغانانو په کي برخه اخیستي وه په شاندارو مراسمو سره ونمانځل شوه. دغي غونډي یو خاص خوند او مزیت درلود او هغه دا چي پدي غونډه کي د پاچا امان ا لله لور، شاه دخت هندیه د افغانستان ،پکي هم برخه اخیستي وه. په همدي لحاظ د غونډي برخه لرونکي زیاتره میرمني او نجوني وي. دا غونډه د سانفرانسسکو د بی اریا د ۱۱ کمیټوپه وسیله ترتیب شوي وه. دغوندي نطاقان ، دکلتوري ټولني مشر محترم نصیر یاسیني او محترمه سهیلا هاشیمي وو. د غونډی عمومي کنترولر او لوي مشر محترم ډاکتر سید عبدا لله کاظم و، چي د شاه دخت تر څنګ تر اخیره پوري ناست و.

غونډه د شپږو بجو پر ځاي په شپږ. نیمو بجو د مازدیګر د قران عظیم الشان د څو ایاتونو په تلاوت د قاري سجادي په قرائت شروع شوه. ددي نه وروسته محترمي سهیلا هاشیمي د غونډي د عمومي مشر ډاکتر سید عبد الله کاظم نه وغوښتل چي خپله بیانیه وړاندي کړي. مګر د تخنیکي خنډونو له امله دده وینا سمه وانه وریدل شوه. ده پخپله وینا کي، شاه دخت هندیه د افغانستان، ته دی غونډي ته ښه راغلاست ووایه او د اعلیحضرت امان الله خان غازی رول یي د وطن په آزادۍ او خپلواکۍ کي وستایه او د هغه خدمتونه یي د قدر وړ وبلل.

د غونډي بل خبري کوونکی محترم ډاکتر قیومي د سان هوزی د پوهنتون رییس و. ده د آزادۍ اهمیت ته د هیوادونو په پرمختګ ګوته ونیوله او هغه یي مهم وباله، او بیا یي د افغانستان د آزادۍ لپاره د خلکو پاڅون د اعلیحضرت امان الله خان غازی په وسیله ارزښتناکه وانمود کړ، ده وویل چه آزادی اخیستله کیږي لکه چه زمونږ خلکو واخیستله.

د کلتوري ټولني مشر ښاغلي یاسیني بل ګډون کوونکی، پوهاند ډاکتر حسن کاکړ، چي ډیر تاریخي اثاریي لیکلي او جامعي ته یي وړاندي کړیدي، معرفي کړ. پوهاند کاکړ، پخپله پښتو لیکل شوي بیانیه کي حاضرینو ته وویل چي د افغانستان آزادی د پاچا امان الله خان د قوي ارادي او کلک عزم محصول دی، د ه د پاچا امان الله خان غازی د دوري مهمو کارونو ته ګوته ونیوله او د پاچا رویه یي د خپلو هیوادوالو سره په زړه پوري وبلله، د هغه پلانونه یي د هیواد د پرمختګ او انکشاف لپاره مهم وګڼل او هغه یي وستایل. ده د پاچا د لور خدمتونه چي تر اوسه یي کړیدي هم با ارزښته وبلل. ده پاچا امان الله خان او ملکه ثریا د ښځو د نهضت مخکښان وشمیرل.

دده څخه وروسته د غونډي لوي مشر ډاکتر کاظم بیا د مکروفون مخي ته راغي او د حاضرینو د توجه څخه یي په دري ژبه مننه او تشکر وکړ او ویي ویل چي دسپلین باید مراعات شي. او داسي یي ادامه ورکړه چه شاه دخت هندیه غواړي چي ستاسي د ټولو سره یو په یو خبري وکړي او عکسونه درسره واخلي، چي دا کار به لږ مشکل وي، ځکه چي دلته تقریبا ۴۵۰ کسان تشریف لري ا و دا یوه ۸۲ کلنه شاهزادګۍ ده. خو بیا هم به د هر میز د نفرو سره یو عکس واخلي.

له دی نه وروسته د خبرو نوبت انجنیر فرید وردګ ته ورسید. انجنیر وردک خپلي لیکلي خبري په دري ژبه حاضرینو ته واورولي. کله چه انجنیر وردک پاچا امان الله خان ته د والاحضرت کلیمه پرله پسي استعمال کړه، ډاکتر کاظم ور پاڅید او ورته یي وویل چي پس له دي د اعلیحضرت کلیمه استعمالوه. انجینیر وردک هم د پاچا او ملکي خدمتونه د وطن د آزادۍ او د ښځو د نهضت په هکله وستایل.
د انجنیر وردګ د خبرو څخه وروسته ، مهریه رشید ، بینش، البرټ، د مایکروفون مخي ته راغله او د شاه دخت هندیه د افغانستان، لنډي سوانح یي ولوستلي. مهریه رشید البرټ وویل چي شهزادګۍ دوه واري ودونه کړیدي. لمړی واده یي د یوه ایراني سره وو چه د هغه واده ثمره دوه لورګاني دي، او دویم واده یي د یوه افغان سره وو چه ددي واده ثمره یو زوي دی چه سکندر خان نومیږي. میرمن البرټ د شهزادګۍ خدمتونه د افغانانو د جهاد نه تر اوسه چي د جنګ ځپلو ماشومانو طبي پاملرنه یي کړي او کوي یي وستایله.

د پروګرام پدي برخه کي نوبت سلاید شو ته ورسید ، چي د محترم ډاکتر عبد الرحمان زماني په وسیله په دري ژبه ترتیب او تنظیم شوي و، حاضرینو ته وښودل شو، چه د اعلیحضرت امان الله خان د لور ډیر خوښ شو.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ددي پروگرام په پاي كي نوبت د پاچا لور، هنديه د افغانستان، ته ورسيد. دلته د يادولو وړ ده چي وويل شي چه ټول مجلس د پاچا د لور د خبرو انتظار درلود. د پاچا لور په دري ژبه خپلي خبري شروع كړي.
شاه دخت در سخنان خود فرمود كه: از كجا شروع كنم! من به شما چيزهاي را مي گويم كه گفته نشده باشد. در مورد كار خود و تداوي اطفال جنگ زده أي افغان شاه دخت گفت كه من به اجازه دولت ايتاليه به آوردن اطفال زخمي و جنگ زده براي تداوي شروع نمودم در اول ١٥ طفل از اطراف و اكناف وطنم بودند بعدا ٣٠ و پسانتر تعداد شان به ٦٠ نفر رسيد. در مورد عمليات و تداوي شان شفاخانه هاي ايتاليه مساعدت مي كردند. اما بعد از عمليات شفاخانه ها انها را نگهداري نمي كردند، من انهارا به خانه خود نگهداري و حفاظت مي كردم.
در مورد استقلال وطن ياد آور شد و گفت كه در جنگ آزادی وطن نام هاي جنرال صالح محمد خان، جنرال عبدالقدوس خان و جنرال محمد نادر خان قابل ياد آوری هستند.
شاه دخت از قول پدر مرحوم خود گفت كه، آزادی گرفته مي شود، بدين ملحوظ شاه امان الله تصميم مردم خودرا براي اخذ آزادی به انگليس ها اعلان نمود، و جنگ آزادی به شهامت و زور مردم غيور افغانستان به نفع مردم ما به انجام رسيد، آزادی را به دست آورديم ، اما براي نگهداري آن به قول پدرم به تعليم و تربيه و رشد ذهني اشد ضرورت است.
پدرم، شاه امان الله، عقيده داشت كه، ملت بيسواد آزاد نيست. به همين آرزو ، او مكاتب ذكور و اناث را تأسيس نمود. او كار مهم ديگري را كه انجام داد اين بود كه غلامي و بردگي را لغوه اعلام كرد و گفت كه حقوق همه مساوي است. براي بندي ها در مقابل كار اجوره را تجويز نمود. سفارتخانه های افغانستان را در بسياري مملكت هاي پيشرفتهٔ جهان افتتاح نمود. جوانان، اعم از زنها و مردها را براي تحصيلات عالي به كشور هاي تركيه، المان و ديگر ممالک جهان فرستادند.
واردات، و ورود پارچه هاي خارجي براي كالاها را ممنوع قرار داد، و خريد پارچه هاي داخلي را تشويق نمود. او اولين قانون اساسي را بوجود آورد و هميشه در فكر پيشرفت ميهن خود بود. براي پيشرفت اقتصادي ميهن خود پلانهاي ارزنده داشتند، و براي تطبيق آن به ممالک اروپايي سفر ها نمودند. شاه امان الله ثقافت و هنر مردم خود را دوست داشت.
او هميشه موسيقي افغاني را مي شنيد و از آن لذت مي برد. خصوصاً خواندن حماسي استاد قاسم را هميشه گوش مي كرد. و از آن لذت مي برد.
پدرم هميشه مي گفت كه وطنم را آزاد و آباد مي خواهم و آرزو داشت كه مردم اورا فراموش نكنند. خاطره هاي ديگر پدرم اينست كه، پدرم در ايتاليه، مارا هميش به پارک ها و باغ ها مي بردند در آنجا بفكر باغ هاي وطن خود مي رفت و راجع به باغ های وطن و مردم خود به ما سخن ها مي گفت. پدرم هميشه مي گفت كه او نه پشتون است، نه تاجک، نه اوزبک، نه تركمن، بلكه يک افغان است كه به همه افغان ها ارتباط دارد. تمام اقوام افغانستان را دوست داشت. مارا درس هاي تاريخ افغانستان و تاريخ اسلام مي دادند و راجع به حقوق زنان و تعليم و تربيه آنها حرفها مي گفتند. او مي گفت كه زن بي تعليم اولاد سليم و فهيم به جامعه تسليم كرده نمي تواند او بسيار زياد طرفدار تعليم و تربيه نسوان بود. در مورد روسري و چادري مي گفت كه اين حق زن است كه چادري مي پوشد يا خير، ما بايد آنرا بالاي زنها تحميل نه كنيم.
پدرم مارا هميشه به عشق به وطن و مردم افغان تشويق مي كرد، و مي گفت كه هيچ وقت مردم ميهن خودرا فراموش نكنيد. ما وطن دوستي را از پدر و مادر مهربان يادگرفته ايم.
پدرم در لحظات آخر زندگي گفتند كه براي بار آخر مي خواهد آواز موسيقي استاد قاسم را بشنود، آنرا گوش كرد و جان را به سال ١٩٦٠ به حق سپرد. و در آخيرين رمق حيات خود نام كابل را به زبان آورد.
حالا مي خواهم راجع به خاطره هاي مادرم ملكه ثريا، كه زن زيبا و مقبول بود حرف بزنم. او به لسان هاي عربي، فارسي، فرانسوي، و ايتالوي حرف مي زد. او زن با غيرت و با شهامت بود ا و از غربت وطن رنج مي برد اما به اولاد ها آنرا اظهار نمي كرد. هميشه خودش غذا تهيه مي كرد، پخت و پز بلد بود.
همه اولاد ها را دوست داشت، مارا زياد بوسه نمي كرد وقتي كه مي پرسيديم كه كي را زياد دوست داري، جواب اش همين بود كه همهٔ شمارا، ما سه خواهر و چهار برادر بوديم، دو برادر ما در كودكي فوت شده بودند. مادرم همه رادوست مي داشت.
مادرم به پيران و كهن سالان احترام فراوان داشت، تمام مردم افغان خصوصا زنهاي رنج كشيده وطن خودرا بسيار دوست داشت.
مادرم مي گفت، وقتيكه او از شام به كابل تشريف آمدند، ١٥ ساله بود، امير حبيب الله به مادرم صحبت ها مي كرد و هميشه به مادرم مزاق مي كرد و به مادرم مي گفت كه تو با كي ازدواج مي كني؟ يک روز كه پدرم هم تشريف داشت ، امير حبيب الله خان از مادرم پرسيد كه آيا شما با اين جوان مقبول ازدواج مي كنيد، مادرم فورا جواب داد كه نه! امير پرسيد چرا، مادرم جواب داد كه من اورا خوش ندارم. در آن وقت پدرم ٢٣ ساله و مادرم ١٥ ساله بودند. مادرم سه خواهر داشت كه كوچک و خورد همه مادرم بود.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكني د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رااليرلو مخكې په ځير و لولئ

من هم دو  خواهر، به اسم  امينه و عابده  و دو برادر دارم.
مادرم به تمام افغانستان سفر کرده است، هيچ وقت از موتر استفاده نه کرده است، زيراکه ديگر مردم موتر نداشت، به اسپ  به ولايات سفر مي کرد.
مادر من پيشرو نهضت نسوان در افغانستان بود او روي لوچي را در افغانستان اساس نهاد و در مورد چادري گفتند که چادري يک انتخاب آزاد است و مربوط به هر زن افغان است که مي پوشد يا خير. هيچ کس حق ندارد آنرا به زنان افغان تحميل کند.
مادرم طرفدار تعليم و تربيه نسوان افغانستان بود، به همين سبب خودش در مکاتب نسوان کابل به صفت معلمه ايفاي وظيفه مي کرد.
مادرم زن زيبا بود، هيچ وقت زيبايي خود را از دست ندا د اما خود را زيبا نمي گفت. او عادت داشت که هيچ کسي را مسخره نکند و بالاي هيچکس مزاق نمي کرد.
هر وقت که مادرم مريض مي شد من آن شب بيدار مي بودم  و خواب کرده نمي توانستم، زيرا که مادرم را بسيار دوست داشتم. او هميشه در حالت مريضي به ما اطمينان مي داد که خوب است اما باز هم دل من نارام مي بود.
در سال ۱۹٦٥ مادرم  مريض شد، درين وقت من شب و روز در پهلوي بستر او بودم او به ما گفت که شما بايد بدانيد که اول والدين (پدر و مادر) مي ميرند بعدا اولاد ها. مادرم در همين سال جان را به حق سپرد، يعني ۸ سال بعد از مرگ پدرم ، مادرم وفات شد.
اين بود ياد داشت هاي من، در اخير از تمام شما تشکر مي کنم.

د هنديه د افغانستان، د خبرو وروسته حاضرينو ډوډۍ وخوړله ، او د ډوډۍ نه وروسته د موسيقي پروګرام پيل شو.
ددي تر څنګه افغانانو د پاچا د لور سره د عکس اخيستو مراسم هم شروع شول، پدي وخت کي د غونډی لوي مشر ډاکټر کاظم بيا د  پاچا د لور تر څنګ پيدا شو او خلکو ته يي په هدايت ورکولو پيل وکړ. د پاچا لور په سړه سينه د خپلو افغانو بچو سره په خوښۍ عکسونه اخيستل. د هغي په مزاج کي هيڅ د تاثر علايم نه ليدل کيدلي، هغه په دي کار ډيره خوشاله وه. ځکه چه د هغي خپل وطنوال هميشه خوښيږي.  د پاچا لور د شپي په تقريبا ۱۲بجو دغه غونډه پاي ته ورسوله او خپل استوګن ځاي ته ولاړه . دا هم د يادولو وړ ده چي، ددي غونډي د ګډون ټکټ ۳۰ ډالره قيمت درلود.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ